ورځپاڼه
# هیواد

## د افغانستان اسلامي امارت په بلوچستان او خیبر پښـــتونخوا کې وروستي بریدونه وغندل

د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت، په بلوچستان او خیبر پښتونخوا کې وروستي بریدونه وغندل. د بهرنیو چارو وزارت په خپور شوي پیغام کې لیکل شوي دي: ((د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت په بلوچستان او خیبر پښتونخوا ایالتونو کې د میلادالنبي صلي الله علیه وسلم د نمانځنې په مراسمو او د جمعې په لمانځه کې وروستي بریدونه غندي او متضررو کورنیو ته د تسلیت په وړاندې کولو سره له هغوی سره خپله ژوره خواخوږي څرګندوي، شهیدانو ته د فردوس جنت او زخمیانو ته د عاجلې شفا دعا کوي.)) د راپورونو له مخې، په بلوچستان او خیبر پښتونخوا کې په وروستیو بریدونو کې څه د پاسه ۵۰ تنه وژل شوي او لسګونه تنه نور ټپیان شوي دي.

مؤسس: عبدالرووف بېنوا
د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز
یکشنبه د ربیع الاول ۱۶ مه ۱۴۴۵ ق کال | د تلې ۹ مه ۱۴۰۲ ل کال | دسپتمبر ۳۱ مه ۲۰۲۳ م کال | خصوصي ګڼه ۱۳۸ مه | پرله‌پسې ګڼه ۲۲۸ مه ،اتمه‌دوره

## مولوي امیرخان متقي د مسکو فارمټ غونډه کې د افغانستان په اړه د قرغزستان د مثبت دریځ ستاینه وکړه

د بهرنیو چارو وزارت سرپرست مولوي امیر خان متقي، د مسکو فارمټ په غونډه کې، د قرغزستان جمهوریت له ځانګړي استازي طلعت بیګ سره وکتل. د یاد وزارت د خبر پاڼې د معلوماتو له مخې؛ په دې کتنه کې دواړو لوریو د افغانستان او قرغزستان پر دوه اړخیزو اړیکو او له افغانانو سره د قرغزستان پر بشري مرستو هر اړخیزې خبرې وکړې. د بهرنیو چارو وزارت سرپرست همدا رنګه، د مسکو فارمټ په ګډون په سیمه‌ییزو او نړیوالو غونډو کې د افغانستان په تړاو د قرغزستان له مثبت دریځ څخه ځانګړې مننه کړې ده. د یو بل خبر له مخې؛ مولوي امیر خان متقي د مسکو فارمټ په څنډه کې، د سعودي عربستان له استازي شهزاده جلوي بن ترکي آل سعود سره په کتنه کې، د افغانستان او سعودي عربستان پر دوه اړخیزو اړیکو، د دوه اړخیزو پلاوو د لیدو کتو پر زیاتوالي او بشري مرستو هر اړخیزې خبرې کړې دي.



### خلیفه سراج الدین حقاني پنجشیر ته په سفرکې:

## پنجشېر او خلک یې په افغانستان کې زرین تاریخ لري

د کورنیو چارو وزارت سرپرست خلیفه سراج الدین حقاني د میزان په ۶ مه پنجشیر ته د یوه مهم سفر په ترڅ کې د دې ولایت له سیمه ییزو چارواکو، قومي مخورو، علماوو، ځوانانو او د سیمې له بېلابېلو اقشارو سره وکتل. ده په پرونۍ غونډه کې وویل: د پنجشېر او د دې سیمې خلک په دې هیواد کې زرین تاریخ لري، د دغو خلکو ویاړونه د افغانستان ټولو خلکو ته څرګند دي. حقاني زیاته کړه ،چې د پنجشېر اوسېدونکي متقیان او زړور خلک دي **۵مخ**



### قطر:

## له افغانانو سره خپلو مرستو ته دوام ورکوو

د قطر د بهرنیو چارو وزارت په اعلامیه کې ویلي، چې د افغانستان په اړه د مسکو فارمټ پنځمه غونډه کې د یاد وزارت د آسیایي چارو مشر یوسف بن سلطان یوسف لارام هم ګډون کړی و. په اعلامیه کې راغلي، چې یوسف لارام په دغې غونډه کې ټینګار کړی، چې په سیمه او نړۍ کې د ټیکاو ټینګښت د ټولو هغو لوریو اصلي موخه ده، چې افغانستان کې ټیکاو او امنیت غواړي. لارام ویلي ،چې، قطر د افغانستان ملاتړ ته دوام ورکوي او د افغانانو د بشري وضعیت د ښه کولو لپاره خپلې هڅې مرستې نه سپموي.



## د قوش تېپې کانال د ترانزیټي پلونو رغنیزې چارې ۹۹ سلنه بشپړې شوې

د هیواد په شمال زون بلخ ولایت کې د قوش تېپې ستر ملي کانال پر سر د مزارشریف – حیرتان د رېل پټلۍ او ترانسپورټي پلونو، چې افغانستان له ازبیکستان سره نښلوي، رغنیزې چارې ۹۹ سلنه بشپړې شوي دي. په دغو لویو پلونو کې کارول شوي رغنیز توکي د افغانستان خپل تولید دي او د جوړېدو مسئولیت یې هم افغان انجنیران پر غاړه لري. د دغه لوی حیاتي کانال د رېل پټلۍ او ترانسپورټي پلونو د جوړولو د تخنیکي چارو قراردادي انجنیران وایي: دا مهال د دغو پلونو ۹۹ سلنه چارې سرته رسېدلي او د پاتې برخې کار به یې تر را تلونکې یوې اوونۍ پورې پای ته ورسېږي. د قوش تېپې کانال د پلونو جوړولو تخنیکي انجنیر نصرت الله امیري په دې اړه وایي: (( د دواړو پلونو چارې ۹۹ سلنه بشپړې شوې دي او چارې یې ډېرې په چټکۍ سره روانې دي، موږ ټارګېټ ورکړی دی، چې په راتلونکو ۷ ورځو کې به د پلونو پاتې چارې پای ته ورسېږي او د ترافیکو پرمخ به پرانیستل شي)) د قوش تېپې **۵مخ**



## کندهار کې د شکر پارې حاصلات ډېر شوي

د کندهار شکر پاره، چې په وچه میوه کې بهرنیو هیوادونو ته د صادراتو مهم قلم جوړوي، سږ کال هم ښه فصل لري. د مسئولینو په وینا: د افغاني شکر پارې ډېره برخه صادرات د چین او هندوستان هیوادونو ته کېږي، چې د کال څه د پاسه اته زره ټنه شکر پاره بهر ته صادره شوي ،چې له درکه یې، شاوخوا ۱۶ میلیونه امریکایي ډالره عواید ترلاسه شوي دي. د شکر پارې سوداګر هم له خپل کاره خوښ دي، خو د ویزې د ورکړې په برخه کې له ګڼو ستونزو سر ټکوي. د شکر پارې د کاروبار د پیل په بهیر کې سلګونو کسانو ته د کار کولو زمینه برابرېږي. دوی په ورځنۍ توګه ښه عواید ترلاسه کوي، تر څو د خپلو کورنیو اقتصادي ستونزې پر ې حل کړي.

## د پکتیا د څمکنیو ولسوالۍ اوسېدونکي د روغتیایي خدمتونو له کمښت څخه شکایت کوي

د پکتیا د څمکنیو ولسوالۍ اوسېدونکي وایي ،چې دغې ولسوالۍ کې نفوس زیات دي او شته روغتیایي خدمات ورته بسنه نه کوي. دوی وایي ،چې د دې ولسوالۍ ۷۰ بستریز روغتون یوازې د دې ولسوالۍ د اوسېدونکو نفوس ته په کتو جوړ شوی، خو اوس د شېړو نورو ولسوالیو خلک هم خپل ناروغان د درملنې لپاره دغه روغتون ته وروړي. د دوی په وینا: د ګڼې ګوڼې له امله یې روغتون کې د ناروغانو شمېر زیات او امکانات کم وي، چې له ستونزو سره یې مخ کړي دي. د پکتیا د څمکنیو ولسوالۍ اوسېدونکي زیاتوي، چې یاد روغتون کې پرمختللي اېکسرې ماشینونه شتون نه‌لري او ناروغان اړ دي، چې د اېکسرې لپاره کابل ته لاړ شي. یوه ناروغ‌لرونکي نذیر وویل: (( که امکاناتو ته راشو دلته ډېر امکانات نشته، مثلا که زه ام‌آراي ایکسرې وغواړم، نو دلته نشته، زه باید کابل ته ولاړ شم. که وغواړم سیټي‌سکین ایکسرې وکړم هغه دلته نشته باید کابل ته ولاړ شم. بل دا چې د سوی تغذیې ماشومانو د درملنې لپاره دلته امکانات نشته. زما خپله یو ماشوم دي سوي تغذیه دي، دلته **۵مخ**




## په کندهار کې سلګونه پرمختیایي پروژې پلې کېږي

په کندهار ولایت کې د اسلامي امارت د کلیو د پراختیا او بیارغاونې ریاست مسئولین وایي ،چې په دې ولایت کې پر دوه سوه پنځوس کوچنیو او لویو پرمختیایي پروژو کار روان دی. بلـه خوا په کندهار کې پنځوس پرمختیایي پروژې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې. د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست مسئول انجنیر محمد نسیم ایوبي وایي، چې د دوه سوه پروژو د تطبیق کار دوام لري. په دې پروژو کې د کانالونو او سړکونو جوړول او بیارغونه شامله ده چې په پلي کېدو سره به یې د زرګونو مسافرو او سوداګریزو کاروانونو په تګ راتګ کې آسانتیاوې رامنځته شي او د زرګونه جریبه کرنیزو ځمکو د خړوبولو زمینه به هم برابره شي.

## لغمان کې سېلابونو خلکو ته درانه مالي زیانونه اړولي

د لغمان د پېښو په وړاندې د مبارزې او چمتوالي مسئولین وایي، چې د یاد ولایت د دولت شاه ولسوالۍ په بېلا بېلو سیمو کې د سختو بارانونو او سېلابونو د راوتلو له امله خلکو ته درانه زیانونه اوښتي دي. د لغمان د پېښو په وړاندې د مبارزې او چمتووالي رئیس قاري خیر محمد غازي د با خترآژانس خبریال ته ویلي، چې د یاد ولایت د دولت شاه ولسوالۍ په ځینو سیمو کې د تېرې شپې د بارانونو او سېلابونو له امله د خلکو شاوخوا لس کورونه ویجاړ او ۷۰ څاروي له منځه تللي او یوشمېرسیمو ته د تګ را تګ لارې هم بندې شوې دي. د دولت شاه ولسوال قاري عبدالقاهر متوکل وویل، چې په یادې ولسوالۍ پورې اړوند بنګرۍ، رساني، ملنګانۍ، نویا او نورو سیمو کې سېلابونو د خلکو کورونه ویجاړ کړي او لسګونه څاروي یې له منځه وړي دي. په ورته وخت کې د یادې ولسوالۍ د اټوک سیمې یو اوسېدونکي خدای نور وویل، چې د سېلابونو د راوتلو له امله یې کور ویجاړ او ۵۰ څاروي یې له منځه تللي دي. ورته وخت کې د دولت شاه ولسوال او د پېښو په وړاندې د مبارزې او چمتووالي رئیس وویل ،چې له مرسته کوونکو ادارو سره یې خبرې کړي ، ترڅو د سیمې خلکو ته لومړنۍ مرستې ورسوي.



هیواد

یکشنبه دربیع الاول ۱۶ مه ۱۴۴۵ ق کال | د تلې ۹ مه ۱۴۰۲ ل کال | دسپتمبر ۳۱ مه ۲۰۲۳ م کال | خصوصي ګڼه ۱۳۸ مه | پرله‌پسې ګڼه ۲۲۸ مه ،اتمه‌دوره





# سرلیکنه

## قوشتیپه کانال او د هیواد د ښې راتلونکې ځرکونه!

د هیواد د یوې ستړې او اساسي پروژې قوشتیپې کانال د لومړۍ برخې کارونه وړمه ورځ په ډېرې چټکۍ او بریالي ډول سره پای ته ورسېدل. د دغې پروژې کارونه په درېو برخو وېشل شوي، لومړۍ برخه یې د یوسل او اته (۱۰۸) کلومتره کانال د کیندنې چارې وې، چې په ډېر چټک ډول پای ته ورسېدې. بل مهم اړخ یې دا و، چې ټولې تخنیکي او فني چارې یې د افغاني انجنیرانو او شرکتونو له لوري مخته یوړل شوې. بله مهه نقطه داده چې د دغې ستړې او ملي پروژې تمویل له هر ډول بهرنۍ مرستې پرته له خپلې بودیجې وشو.د دغې پروژې د لومړۍ برخې د کارونو بشپړېدو وښوده، چې اوسنی اسلامي حکومت په څومره اندازه ملي ګټو ته ژمن دی او په څومره پراخه کچه د هیواد جوړونې لپاره هڅې کوي او دغه راز یې په ټولو چارو او برخو کې د دې نظام پوره خپلواکي او استقلال ثابت کړ، چې د خپلو ملي ګټو په خاطر د هېچا غوښتنې او فرمایش ته غوږ نه نیسي.ټول افغان ملت د دغې ستړې پروژې د لومړۍ برخې د چارو په بشپړېدو خوشحاله دی او د سوکالۍ احساس لري او دغه راز ښې او روښانه راتلونکې ته یې هیلې ډېرې شوې دي. په ټولنیزو رسنیو کې ددغې پروژې په هکله د ټول افغان ملت احساس او ملاتړ د ستاینې وړ دی، هغوی ټولو په یوه خوله دا کار د هیواد رغونې او ځان بسیاینې په برخه کې بې ساری ګڼلی او د اسلامي امارت جدیت او ژمنتیا یې ستایلې ده.رښتیا هم د قوشتیپې کانال پروژه ډېره مهمه او حیاتي ده، چې په جوړولو سره یې افغانستان د زراعت او خوراکي توکو د تولید په برخو کې پر ځان بسیا کېږي او د اقتصادي چارو کار پوهان په دې اند دي، چې ددغې پروژې په تکمیل سره زراعت صنعتي کېږي او د افغان ملت لپاره خورا ډېرې اقتصادي ګټې لري.که څه هم اسلامي امارت ددغې پروژې د پاتې برخو پر ژر جوړولو ټینګار کړی او د لومړۍ برخې د کار چټکتیا ته په پام سره هم داسې ښکاري، چې د پاتې برخو چارې به هم ډېر ژر پیل شي، خو بیا هم د ټول ملت غوښتنه دا ده، چې د دغې پروژې د پاتې برخو پوره کولو ته دې هم جدي پاملرنه وشي. افغان ملت ډېر کلونه په جګړو، ژورو خپګانونو او غمونو کې تېر کړی او د داسې پروژو په جوړېدو سره د خوښۍ احساس کوي او د لا ډېر کار هیله لري.افغانستان تېر څلوېښت کلونه د سختو جګړو له امله د پرمختګ او تمدن له کاروانه وروسته پاتې دی، اوس چې الحمدلله یو مثالي امنیت تامین دی او ځواکمن او یوموټی اسلامي نظام لرو، باید د رغونې او پرمختګ چارې لا ډېرې شي او افغانستان له نړۍ او سیمې سره سیال شي.

### مولوي امیرخان متقي د مسکو فارمټ غونډه کې:

# اوس له بل هر وخته د (( شمال او جنوب سوداګریز دهلېز)) عملي کېدو ته شرایط برابر دي

حامداً و مصلیاً و بعد،له هر څه وړاندې د روسیې فدراسیون له حکومت او د تاتارستان جمهوریت نه مننه کوم ،چې د دې ناستې تابیا یې ونیوله او د افغانستان د اسلامي امارت په استازیتوب یې موږ ته د ګډون بلنه راکړه، ترڅو د خپل هیواد په تړاو د وروستیو سیاسي، امنیتي او اقتصادي پرمختګونو په هکله د ناستې ګډونوالو سره هراړخیز بحثونه ولرو.درنو حاضرینو! دوه کاله وړاندې د ۲۰۲۱م کال د اکتوبر په ۱۶مه زموږ یوه لوی پلاوي داسې مهال د مسکو فارمټ ناسته کې ګډون وکړ، چې په افغانستان کې د امریکا او ناټو اشغال او پر هغوی تکیه اداره له منځه تللې وو او د افغانستان اسلامي امارت حکومت تازه کار پیل کړی و. هغه مهال ځینو لوریو سره د راتلونکې حکومتدارۍ، د حکومتي بنسټونو د احیاء خصوصاً د امنیتي سکتور وزارتونو د بیا فعالولو، د امنیتي وضعیت او د مخدرو موادو په تړاو ژورې اندېښنې او جدي پوښتنې مطرح وې.

خو موږ د الله تعالی په خاص نصرت، د ولس په ملاتړ او په خپل ټینګ عزم باور درلود چې د اشغال له پای ته رسېدو سره به سم موږ د یوه خپلواک، امن او ښېرازه افغانستان د بنسټ ډېره ږدو، چې الحمدلله دا کار وشو او پر تقویت یې کار روان دی.

تېر دوه کاله موږ د همدې فارمټ او نورو ناستو او فارمټونو په چوکاټ کې سیمې او نړۍ ته د افغانستان د امنیتي وضعیت په هکله اطمینان ورکړ او ژمنه مو وکړه ،چې د افغانستان اسلامي امارت به د یوه مسئول حکومت په توګه پرې نږدي ،چې د افغانستان له خاورې د نړۍ، سیمې او په ځانګړې توګه خپلو ګاونډیو هیوادونو ته ګواښ پیښ شي، چې دا ژمنه په ښه ډول عملي شوې ده.په تېرو دوو کلونو کې موږ د خپل حکومت د سیاسي، امنیتي او اقتصادي بنیادونو له رغولو سره هممهاله د اشغالګرو په سیوري کې د روزل شویو فتنه‌ګرو ډلو پرخلاف مبارزه چټکه کړه او وتوانېدلو چې په ټول هیواد کې د داعش پټنځایونه په ډېر مسلکي ډول له منځه یوسو او د افغانستان په شمول د ټولې سیمې د امنیت پرخلاف د یوې ستړې دسیسې وروستۍ هڅه هم شنډه کړو.درنو حاضرینو! په تېره شاوخوا نیمه پېړۍ کې افغانستان له ګڼو سیاسي، امنیتي، اقتصادي، ټولنیزو او په ځانګړې توګه د کورني مشروعیت له بحران سره مخ و ،چې د ګڼو ننګونو لامل شو؛ علمي او عملي تجربو وښوده ،چې د بحران اصلي ریښه د کورنیو مسئلو په اړه د خارجي نسخو، ماډلونو او فرمایشونو په تطبیق کې وه، چې زموږ جغرافیه، تاریخ، فرهنګ، دیني او ټولنیز ارزښتونه په کې له پامه غورځول شوي وو.

زموږ د دې ادعا ښه بېلګه تېره دوه کلنه حکومتولي ده، چې له بندیزونو او د کوم جهت له مرستې او ملاتړ پرته مو جنګ ختم او ډاډمن امنیت مو رامنځته کړ، حکومت مو مرکزي کړ، بودیجه مو خپلواکه کړه، له هیواده مو چا ته ګواښ پیښ نه شو، له مخدرو موادو سره مو مؤثره مبارزه وکړه، په حکومتي او خصوصي سکتور کې مو کاري فرصتونه پراخ کړل، عدالت ته لاسرسي هرې ولسوالۍ او کلي ته وغځېده،د تجارت، ټرانزیټ او پانګونې لپاره مو آسانتیاوې رامنځته کړې، د هیواد په بېلابېلو برخو کې مو د بیا رغونې پروژې پیل کړې او د ولس تر محرومې طبقې پورې مو د خدماتو رسولو کې شفافیت تضمین کړ.

دا هر څه په تېرو شلو کلونو کې په اصطلاح همه شمول رژیم د سوونو زرو بهرنیو او کورنیو عسکرو، پرمختللو وسلو، پراخ مالي ملاتړ او د سیمې او غربي هیوادونو له سیاسي ملاتړ سره سره هم ترلاسه نه کړل، چې د پاشلتیا اساسي لامل یې د بهرنیو فرمایشونو د منلو په نتیجه کې د ولس په وړاندې د مشروعیت بحران رامنځ ته کېدل او په مقابل کې یې د ولس را پارېدل و.

په همدې اساس مو د خپلو خلکو د دین، تاریخ، کلتور او خصوصاً نړدې سیاسي واقعیتونو ته په پام کې نیولو سره مو د یوه داسې حکومت بنسټ کېښود چې د ښې حکومتدارۍ ترڅنګ له دیني او ملي مشروعیت څخه برخمن وي.



هیله من یم چې د سیمې او نړۍ هېوادونه هم پر دې واقعیت د تائید مهر ولګوي . ولې په تېرو ۴۵ کلونو کې د نا تعریف شوي همه شمولیت په څېر هېڅ بهرنۍ نسخې د افغانستان ستونزې نه دي حل کړي. موږ له ټولو هېوادونو، په ځانګړې توګه له خپلو ګاونډیو او د سیمې له هیوادونو هیله لرو، لکه څنګه چې موږ نورو ته د حکومتدارۍ د ښې په اړه نسخې نه وړاندې کوو، دوی دې هم د افغانستان د حکومتدارۍ د ښې په تړاو د نسخې وړاندې کولو پرځای د افغانستان اسلامي امارت سره په هره برخه کې رسمي کار پیل کړي، ترڅو دلته له یوې خوا د شریرو جهتونو لاسونه پرې شي او له بلې خوا د یورو-آسیا سیمې، چې د نړۍ نږدې اویا سلنه نفوس، اکثره شتمني او د انرژۍ درېیمه برخه سرچینې لري، له ظرفیت څخه یې د سیمې د ثبات او ښېرازۍ لپاره له دې تاریخي فرصت څخه د ټولو په ګټه اعظمي استفاده وشي.درنو حاضرینو! په پای کې ځینو مواردو ته غواړم مشخصې اشارې ولرم:

**اول:** اوس چې د افغانستان اشغال پای ته رسېدلی، امنیت راګرځېدلی او یوه قوي سیاسي اراده موجوده ده، نو د دې وخت راغلی، چې د افغانستان پر محوریت د سیمه‌ییز اتصال پروژې تطبیق شي. موږ د خپل اقتصادمحوره بهرني سیاست پر بنسټ د سیمه‌ییز اتصال لپاره... که هغه د ټرانسپورټ په بڼه او یا د انرژۍ د لېږد په ډول وي، چمتو یو چې ټولې لازمي آسانتیاوې برابرې کړو. له نویو سیاسي انکشافاتو وروسته، اوس له بل هر وخته د (( شمال او جنوب سوداګریز دهلېز)) عملي کېدو ته شرایط برابر دي. دلته د روسیې فدراسیون د لومړي وزیر ښاغلي میخائیل میشوستین له هغو څرګندونو ملاتړ کوو چې ویلي یې و :«روسیه چمتو ده چې د افغانستان او جنوبي اسیا په ګډون د یورو-آسیا په سیمه کې د سوداګریزو مسیرونو پر پراختیا تمرکز ولري». د سیمې د هېوادونو لپاره هم باید همدا مهم وي چې څنګه خپلې ګټې خوندي کړي او له فرصتونو استفاده وکړي؛

**دویم:** افغانستان د اقتصادي همکاریو،سوداګرۍاو سرمایه‌ګذارۍ قوي ظرفیت لري او موږ له هر ډول تبعیض پرته د زېربنایي پروژو، انرژۍ، معادنو،



زراعت، مواصلاتي خطوطو او په ځانګړي ډول د وسپنې پټلۍ چې ټوله سیمه د افغانستان له لارې په لنډه توګه نښلوي، چمتو یو چې لازمي اسانتیاوې برابرې کړو؛

**درېیم:** موږ له ګاونډیو هېوادونو سره د سرحدي همکاریو په برخه کې د قاچاقبرانو او نورو ورانکارو عناصرو د تګ او راتګ د مخنیوي په برخه کې خپل تیاری بیا تکراروو. د دغو ګواښونو دفع ډله‌ییزو همکاریو ته اړتیا لري. موږ په دې برخه کې مؤثرې هڅې کړې دي او په کوردننه مو د مخدرو موادو د کښت او قاچاق د صفر کولو په موخه مبارزه کړې ده؛ مګر د قاچاق په برخه کې چې دوو اړخیزو همکاریو ته ضرورت دی، د اړوندو هېوادونو همکاریو ته اړتیا لرو.

**څلورم:** افغانستان د تېرو دوو کلونو په اوږدو کې ګڼو هېوادونو سره، په ځانګړې توګه د سیمې له هېوادونو سره د پراخو سیاسي او دیپلوماتیکو تعاملاتو د پیل شاهد و. په دې اړه د سیمې هېوادونه ډېر مخکښ وو، چې مننه ترې کوو!

دا د افغانستان ، سیمې او نړۍ ترمنځ د دیپلوماتیکو اړیکو نوی فصل بولو. د بېلګې په توګه د چین ولسي جمهوریت د افغانستان اسلامي امارت ته له دیپلوماتیکو تشریفاتو سره سم سفیر معرفي کړ. موږ هیله‌من یو چې د چین دا اقدام نورو هېوادونو ته هم ښه مثال شي او زموږ سفیران هم ومني ترڅو د دوه اړخیزو ګټو په نظر کې نیولو سره مؤثرې ښکېلتیا ته زمینه برابره کړي.

پنځم: افغانستان ته د نړۍ له بېلابېلو هېوادو سیلانیان، دیپلو ماتان، مرستندویان، خبریالان او څېړونکي په ډاډه زړه راځي او په ټول هیواد کې آزاد ګرځي. بناءً موږ یو ځل بیا اعلان کوو، هر څوک چې له افغانستان څخه د امنیت او یا هم د مخدرو موادو په اړه تشویش لري ، د مغرضو کړیو د تبلیغاتو د اورېدو او د همدې غرضي تبلیغاتو په استناد او بنیاد د عکس العمل ښودلو پر ځای دې خپله افغانستان ته راشي، هیئتونه دې راولېږي او هر څه دې له نږدې په خپلو سترګو ووینې تر څو یې تشویش رفع او اطمینان یې حاصل شي.

په پای کې د روسیې فدراسیون د دې ابتکار له امله د منني ترڅنګ یو ځل بیا پر ګاونډیو او د سیمې پر هېوادونو باندې غږ کوم چې افغانستان د مشترکو مشروعو ګټو پر بنسټ له ټولو سره مثبت تعامل ته چمتو دی او هیله‌من یو چې له دې فرصت څخه ټول هېوادونه د خپلو ملي ګټو په پام کې نیولو سره استفاده وکړي.له توجه څخه مو مننه، ښه وختونه ولرئ.

# صنعت قالینبافی یکی از صنایع دستی قدیمی افغانستان است

**مجتبی شکوری**

به نظر آگاهان امور اقتصادی هرگاه امارت اسلامی افغانستان سرمایه‌گذاری روی تولید قالین افغانی را افزایش دهد،هم زمینه کار برای خانواده ها فراهم می شود و هم عواید ملی کشور تقویت میگردد.

دولت و سکتور خصوصی رقیب یکدیگر نیستند،بلکه هماهنگ با هم باید برای نیل به اهداف مشترک کار کنند.

همچنان رشد صنایع دستی و تولیدات داخلی در یک کشور سبب زدودن بیکاری و فقر می شود وهم اقتصاد آن کشور افزایش می یابد . صنعت قالینبافی یکی از صنایع دستی قدیمی افغانستان است که زیربنای اقتصادی بیشتر خانواده ها را تشکیل داده و قالین افغانی از کیفیت عالی برخوردار می باشد ،از این رو توجه امارت اسلامی و وزارت صنعت و تجارت هم به تولیدات قالین افغانی بیشتر شده است.از صنعتکاران قالینبافی می خواهند که با ارائه طرح های سازنده زمینه را برای تولیدات و صادرات بیشتر فراهم سازند. چنانکه وزارت صنعت و تجارت امارت اسلامی افغانستان اخیراً گفته است که تاجران کشور در سه ماه اول سالجاری بیش از ۲۶۰ هزار مترمربع قالین را به بیرون از کشور صادر کرده است.

عبدالسلام آخندزاده جواد سخنگوی وزارت صنعت و تجارت به رسانه‌های کشور گفته است که میزان صادرات قالین و گلیم افزایش یافته است.

آقای جواد افزود:صادرات قالین و گلیم در مدت سه ماه اول سالجاری خورشیدی بیش از ۲۶۰ هزار مترمربع بوده که ارزش مجموعی پول آن به چهارمیلیون و چهارصد و هفتاد هزار دالر امریکایی می رسد.وی خاطر نشان ساخت : قالین و گلیم افغانی به کشور های پا کستان،ازبیکستان،ایتالیا،ترکیه،ایال ات متحده امریکا،هندوستان،چین و امارات متحده عربی صادر شده است.بر اساس گفته های سخنگوی وزارت صنعت و تجارت ،امارت اسلامی تلاش دارد تا روند صادرات قالین افغانستان به سایر کشورهای دنیا نیز آغاز گردد.

وی تاکید نمود که وزارت صنعت و تجارت برای حمایت از تولیدات قالین برنامه‌های متعددی را رویدست دارد و برخی از این برنامه ها عملی شده اند.

سخنگوی وزارت صنعت و تجارت علاوه نمود: قراراست نمایشگاه های بزرگ در ترکیه،روسیه و در امارات متحده عربی برگزار شود که در این سه کشور نقش قالین ما سهم فعال خواهد داشت.این در حالیست که مسئولین در اتحادیه تولید کنندگان قالین می گویند که صنعت قالینبافی با گذشت هر روز رونق می گیرد و به گفته این اتحادیه در یک سال گذشته آنان نزدیک به یک میلیون متر مربع قالین را صادر کرده اند.

محمد رضا حیدری رئیس اتحادیه تولید کنندگان قالین در این مورد گفت:صادرات قالین نسبت به سال ۱۴۰۱خورشیدی بیشتر است و بیشتر می شود . چون اطلاعات ما همین را نشان می دهد و تا حدود ۱۵ فیصد صادرات می توانیم داشته باشیم.در همین حال شماری از قالین فروشان از وزارت صنعت و تجارت می خواهند که برای قالین افغانی در داخل و بیرون از کشور بازار یابی صورت گیرد.

عبدالولی سخی زاده یکتن از فروشندگان قالین در این مورد گفت:خواست ما از امارت اسلامی اینست که در قسمت صادرات و واردات شرایط بهتری را فراهم سازند . فعلاً صادرات ما کم است و باید از فرصت هایی که داریم در بخش قالین استفاده لازم شود،به یقین می گویم که ظرفیت بزرگی ایجاد می شود و در آمد های ما نیز رو به افزایش خواهد شد.

براساس گفته های این فروشنده قالین آنان از افغانستان نمایندگی می کنند و تولیدات کشور را به جهان نشان می دهند.

محمد رفیع نادری رئیس اتحادیه تولید کنندگان و صادر کنندگان قالین در زون غرب به رسانه‌های محلی گفته است:بررسی هایی که در سال ۱۴۰۲ انجام شده ماهانه بیش از هشتاد الی صد هزار مترمربع قالین به کشورهای مختلف جهان صادر می شود.

به گفته آقای نادری:صادرات قالین معمولاً از طریق پاکستان به امریکا،کانادا،انگلستان، کشور های اروپایی و به بعضی کشورهای دیگر جهان صادر می شود. در همین حال ریاست صنعت و تجارت هرات می گوید که اخیراً روند صادرات قالین افغانی به بیرون از کشور بهتر شده است و برای بهبود صنعت قالین و صادرات آن به بازار های خارجی تلاش ها جریان دارد.

بدون تردید قرار گرفتن کشور ما به صنعتی شدن در شرایط کنونی اگر ناممکن نباشد بسیار مشکل هم نخواهد بود. زیرا با پیروزی امارت اسلامی افغانستان امنیت و ثبات در کشور تامین شده و هیچگونه تشویش ص ۵

# بزګران د مسئولو ارګانونو هراړخیز ملاتړ ته اړتیا لري

**شاه محمود درویش**

دایو څرګند واقعیت دی، چې د ګران افغانستان کابو اتیا سلنه خلک په ټولیزه توګه پرکرنیزو چارو بوخت دي، خو داوبو، سربندونو، کانالونو اوپرمختللو کرنیزو وسایلو دکموالي له امله تردې دمه نه دي توانیدلی چې دغلو دانو له پلوه دا هیواد پرځان بسیا کړي، نو ددې لپاره چې دهیواد په سلو کې کابو اتیا سلنه خلک د کرنې، مالدارۍ او بڼوالۍ پر چارو بوخت دي، نوپه کارده چې ددغه بهیر ودې اوپراختیا ته باید ډېره پاملرنه وشي ځکه چې په هیواد کې د کرنې او بڼوالۍ د بهیر پراختیا یولومړیتوب دی او د افغانستان اسلامي امارت د مسئولو ارګانونو له لورې باید دهیواد په مرکز او ولایتونوکې قدرمنو بڼوالو اوبزګرانو ته دهراړخیزو آسانتیاوو پر برابرولو سربېره په مناسبو وختونو کې د ډول ډول مېوه لرونکو نیالګیو، اصلاح شویو تخمونو او کیمیاوي سرې مرستې وشي ترهغه چې له امله یې دوی له خپلې کرکېلې څخه پریمانه حاصلات، غلې او دانې ترلاسه کړي، چې له امله یې د دوی د اړتیاوو د پوره کېدلو ترڅنګ په هیواد کې هم غلې دانې او ډول ډول با کیفیته تازه مېوې پریمانه شي او په مناسبو وختونو کې د ګران هیواد له ښارونو بهر د بهرنیو هیوادونو مارکېټونو ته هم وړاندې شي، ترهغه چې له امله یې د قدرمنو بڼوالو او بزګرانو د اقتصادي بډاینې ترڅنګ د هیواد په اقتصادي وده کې هم مثبتې اغېزې پرځای پرېږدي، نو

د افغانستان د اسلامي امارت د لومړیتوبونو پراساس اړینه ده چې په ټولیزه توګه د هیواد په ګوټ ګوټ کې پر قدرمنو کروندګرو په مناسبو وختونو کې اصلاح شوي تخمونه، کیمیاوي سرې اولازم وسایل د اړوندو مسئولو مراجعو له لورې وویشل شي، ځکه چې له



قدرمنو بزګرانو سره هرراز مرسته او د دوی ملاتړ ددې سبب کېږي چې په ټولیزه توګه د هیواد کرنیز سکتور وده او پراختیا وکړي.

البته دې ټکي ته موهم باید پام وي چې ګران افغانستان د خپل ښه جغرافیایي موقعیت او د خدای (ج) ورکړیو ډول ډول کاني زیرمو د موجودیت ترڅنګ دپریمانه طبیعي اوبو د شتون اود یو ښه بشري ځواک د درلودو له پلوه، له شک پرته چې بډای هیواد دی او په دې برخه کې د لازمو امکاناتو د نه شتون له کبله دهیواد بزګران، بڼوال او مالداران له یولړ ستونزو سره مخامخ دي چې ددغې برخې د پرمختګ او غوړېدو له پاره د قدرمنو سوداګرو او پانګوالو هراړخیزې پانګونې ته ډېره اړتیا لیدل کېږي اوپه دې برخه کې د افغانستان د اسلامي امارت او

ښاغلو پانګوالو پاملرنه حتمي او ضروري ده، دیادونې وړده چې څه موده وړاندې په هیواد کې د ډله ییزو خپرندویو سرچېنو په حواله د کرنې ، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت مسئولینو ویلي وو: د کرنې او مالدارۍ له خونې سره د همکارۍ د لاسلیک شوي

هوکړه لیک پراساس به په ګډه د کرنې او کرنیزو محصولاتو د پرمختګ او بازار موندنې لپاره کار وکړي. د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت سرپرست زیاته کړې، د کرنې په برخه کې لومړیتوب باید دا وي چې د هیواد بزګرانو ته اصلاح شوي تخمونه ورکړل شي او په دې برخه کې عملي ګامونه پورته شي.« یاد وزارت پر داسې طرحې کار کوي چې له بزګرانو څخه د دوی محصولات په مناسبه بیه وپېري او بېرته یې د اړتیا په صورت کې پر خپلو خلکو او بزګرانو په ارزانه بیه وپلوري.» د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت مالي او اداري مرستیال په همدې مناسبت جوړې شوې غونډې ته هم ویلي و، چې د کرنې او مالدارۍ خونه اوس په

۱۶ ولایتونو کې مرکزونه لري، خو د کرنې وزارت پلان لري، چې د دوی مرکزونه په ۳۴ ولایتونو کې خلاص کړي.« د دغه هوکړه لیک د لاسلیکولو یوازنۍ هدف د کرنې د پرمختګ په برخه کې د کرنې وزارت او د کرنې او مالدارۍ خونې تر منځ همکاري ده. موږ د دوی ستونزو ته رسېدنه کوو او دوی به هڅه کوي چې د کرنې وزارت په همکارۍ د هیواد بزګرانو او محصولاتو ته یې رسیدنه وکړي.» همدارنګه د کرنې او مالدارۍ خونې عملیاتي رئیس د یاد هوکړه لیک په اړه هم ویلي، چې دغه هوکړه لیک تر ډېره په هیواد کې د بزګرانو ستونزو ته رسېدنه او د دوی محصولاتو ته په کور دننه او بهر بازار موندنه ده.« زموږ هدف دا دی، چې دهیواد کرنیزمحصولات پروسس او د هغو بسته بندي کولو ته زمینه برابره کړو، څو ښه بازار ورته پیدا شي او همدارنګه هڅه کوو چې د هیواد بزګرانو ته په مختلفو برخو کې روزنه ورکړو او مختلف سیمینارونه برابر کړو.»

له شک پرته چې په هیواد کې د کرنیزسکتور د ودې، د کروندګرو ملاتړ او دوی ته د آسانتیاوو د برابرولو په موخه هر اقدام د قدر وړ دی، ددې ۵مخ

# راهکارهای تحقق عدالت اجتماعی

**عبدالرسول «رحیمیار»**



عدالت اجتماعی در سه حوزه حقوقی، اقتصادی و قضائی قابل تعریف است و تحقق آن در جامعه، مستلزم عمل به دستورهای شرع و آن نیز منوط به فراهم آمدن دو سازو کار است، یکی تبیین احکام و برنامه¬های شریعت اسلامی و دیگری ارائه الگوهای عملی آن برنامه¬ها تا آحاد جامعه در اثر عمل به این دستورها و تأسی به نسخه¬های عملی آن به عدالت عمل کنند. براین اساس و برای رسیدن به عدالت اجتماعی، راهکار¬های زیر پیشنهاد می¬شود.

راهکار اول: رعایت اصل شایسته سالاری در تمام سطوح مدیریتی

به این معنی که در تمام سطوح مدیریتی اعم از دولت و قوه قضائیه کسانی عهده دار امور جامعه باشند که از نظر علی کرم الله وجه، اهل ورع، علم وسیاست باشند و آن جا که فرمود: « واصطف لو لا یه اعمالک اهل الورع والعلم و السیاسه» (نهج البلاغه، نامه ٥٣). اهل ورع کسانی هستند که علاوه بر رعایت حلال ها و حرام¬های الهی از موارد شبهناک نیز پرهیز می¬کنند که شناخت احکام دین، ضرورت اجتناب ناپذیر است. به دیگر تعبیر، مدیران باید آگاه به احکام دین وعامل به این احکام و در حیطه مدیریت خود الگوی رفتاری دین باشند.

داشتن دانش و تخصص به امور تحت مدیریت یکی از ویژگی¬های مدیر شایسته است. پیامبر اسلام صلی الله علیه وسلم می¬فرماید:

ترجمه: هرکس بدون علم و دانش به انجام کاری همت بگمارد فساد عمل او بیشتر ازدرستی آن است. (الحرانی، ١٤٢٥ ق )

آسیب¬های موجود این ویژگی مدیریتی به اختصار عبارتند از:

١.عدم وجود برخی رشته¬های علمی نظیر اقتصاد اسلامی ومدیریت اسلامی در دانشگاه¬ها وتأثیر منفی آن درنظام مدیریتی کشور.

٢.عمل نشدن به روایت مشهور» الفقه ثم المتجر» ( الحرالعامی، ١٣٨٢) در امر تجارت و از این جهت عدالت اجتماعی به شدت مورد تهدید واقع می¬شود.

داشتن سیاست، تدبیر وتوان مدیریتی از دیگر ویژگی¬های یک مدیر شایسته می¬باشد. یکی از آثار داشتن سیاست وتدبیر درست، توسعه اقتصادی است. تبعات و آثار سوء عدم شایسته سالاری شامل:

١.عدم بهره برداری درست از امکانات و ظرفیت های کشور اگر مدیران ویژگی¬های مذکور را نداشته باشند از ظرفیت¬های کشور استفاده درست و حد اکثری نمی شود وجامعه دچار رکود وفقر می¬شود، چنانچه علی علیه السلام می¬فرماید: « من وجد ماءً وتراباً ثم افتقر فأبعدالله» (همان، ٢٤)

٢.قانون گریزی در پوشش قانون یکی دیگر از تبعات و آثار سوء عدم شایسته سالاری، قانون گریزی در پوشش قانون و اقتدا به اصحاب سبت است. (خداوند به آنها که شغل شان ماهیگیری بود امر کرد که روزهای شنبه دست از کار بکشند آنها در آن روز حرصچه¬های در کنار دریاایجاد کردند وماهی ها را در آنجا حبس کردند و روزهای یکشنبه اقدام به گرفتن آن نمودند.)

راهکار دوم: ترویج معنویت و از بین بردن زمینه¬های گناه در جامعه چراکه خداوند متعال می¬¬فرماید: « ولو ان اهل القری آمنوا واتقوا لتفحنا علیهم برکات من السماء والارض..» (اعراف آیه ٩٦)

راهکار سوم: تأسیس نظام تعاون وتأمین رفاه اجتماعی

حکومت علاوه بر آنکه مکلف به تأمین رفاه نسبی است، به طور خاص به طور مستقیم مؤظف به تأمین نیاز¬های اولیه دسته خاصی از اقشار آسیب¬پذیر جامعه است که از تأمین امکانات اولیه زندگی خود ناتوان هستند. نظیر بیماران، سالخوردگاه، زنان و کودکان بی سرپرست و بایستی با حفظ کرامت انسانی، آنها را از مستمری ماهانه بر خوردار سازد.

الزامات نظام تعاون رفاه اجتماعی در نظام تعاون وتأمین اجتماعی انجام اقدامات زیر ضروری است:

١.ادغام دستگاه¬های موازی حمایت کننده دولتی و کم کردن هزینه¬های عظیم آن¬ها.

٢.مردمی ساختن حمایت¬ها در قالب فریضه تکافل اجتماعی و واگذاری بخش اعظم و ظایف دستگاه¬های حمایتی به بسیج و نیز مسجد محور ساختن آن.

٣.توانمندی سازی اقشار آسیب پذیر جامعه.

٤.جلوگیری از اظهار اقر یا تکدیگری.

٥.نظارت مستمر بر زندگی اقشارضعیف و آسیب¬پذیر.

٦.لزوم حفظ کرامت انسانی فقرا و نیازمندان و اجتناب از نشاندار کردن و به تصویر کشیدن چهره آنها.

٧.اجتناب ازمنت گذاری بر فقرا و نیازمندان بر اساس دستور¬های اسلامی.

خداوند متعال می¬فرماید: « یا ایهاالذین آمنوا لا تبطلوا صدقاتکم بالمن و الاذی....( بقره ٢٦٤)

راهکار چهارم: ایجاد تحول در نظام وقف گسترش فرهنگ وقف و بهره برداری بهینه از آن در راستای تحقق عدالت اجتماعی.

راهکار پنجم: عملیاتی ص۵

# پیشگیری اجتماعی و وضعی جرم

علی عسکری

از نظر لغوی کلمه پیشگیری هم به معنای جلوگیری کردن یا پیشی گرفتن و هم به معنی آگاهی و اخطار دادن است. این کلمه از لحاظ عملی در کریمنولوژی پیشگیرانه معنی اول آن مورد قبول است. به عبارت دیگر پیشگیری در کریمنولوژی پیشگیرانه عبارت است از به جلو (درمقابل) مجرم رفتن با استفاده از تکنیک های گوناگون مداخله به منظور ممانعت از وقوع جرم.

## تعریف پیشگیری

پیشگیری دارای دو تعریف موسع و مضیق است. پیشگیری در مفهوم موسع به مجموعه شیوه ها و روش هایی گفته می شود که به منظور مقابله با پدیده مجرمانه مورد استفاده قرار می گیرد، پیشگیری در این معنی هم شامل اقدامات و تدابیری می شود که دارای جنبۀ اجرایی و عمومی بوده و ماهیت غیر جزایی و غیر قهر آمیز دارند و هم شامل ضمانت اجراهای جزایی می باشد. برای مثال جبران خسارت متضررین جرایم، اقدامات میانجیگرانه میان مجرم و متضرر استفاده از جایگزین های مجازات حبس، رعایت اصول و مقررات، احترام به کرامت انسانی و رعایت حقوق شهروندی، توسعه اقتصادی، اجتماعی و قضایی همه داخل در قلمرو مفهوم پیشگیری است.

آقایان (وان دیک) و (دی وارد) پیشگیری در معنای مضیق را به شکل زیر تعریف کرده اند: پیشگیری به مجموعه تدابیر و اقدامات، اعم از دولتی و غیر دولتی به استثنای ضمانت اجراهای جزایی گفته می شود که هدف آنها کاهش خسارات ناشی از اعمال مجرمانه است. به نظر می رسد که تعریف فوق از پیشگیری در عین حال که مضیق است، موسع هم می باشد. مضیق بودن این تعریف به این دلیل است که ضمانت اجراهای جزایی را از قلمرو اقدامات پیشگیرانه خارج نموده است و موسع بودن آن هم به این علت است که هدف اقدامات پیشگیرانه را کاهش خسارات ناشی از اعمال مجرمانه دانسته است و بدین ترتیب اقداماتی را هم که در راستای ترمیم و جبران خسارات وارده بر



متضررین جرایم صورت می گیرد، داخل در تعریف پیشگیری دانسته است. در حالیکه اقداماتی نظیر حمایت از متضرران و جبران خسارات وارده بر آنان و میانجیگری جزایی ناصر به پیشگیری از تکرار جرم بوده و بعد از وقوع جرم اعمال می شوند. با عنایت به آنچه گفته شد می توان پیشگیری از وقوع جرم در معنای مضیق و محدود را، که موضوع مطالعه جرم شناسی پیشگیرانه است، به شرح زیر تعریف کرد: پیشگیری به مجموعه تدابیر و اقدامات اجرایی، عمومی و غیر جزایی گفته می شود که هیئت اجتماع با هدف جلوگیری از ارتکاب جرم از طریق از بین بردن عوامل جرمزا و یا کاهش فرصت های ارتکاب جرم مورد استفاده قرار می دهد.

## پیشگیری اجتماعی از جرم

پیشگیری اجتماعی به آن نوع اقدامات پیشگیرانه گفته می شود که عمدتاً بر تغییر شرایط جرم زای محیط اجتماعی و اصلاح ساختارهای اقتصادی، فرهنگی، خانوادگی، اداری، مدنی و علمی جامعه تاکید می کند. به عبارت دیگر، پیشگیری اجتماعی از جرم عبارت است از: جلوگیری از ارتکاب جرم از طریق از بین بردن عوامل اجتماعی تکوین جرم. برای مثال، کلیه اقداماتی که به منظور توسعه و پیشرفت جامعه از بعد اقتصادی، فرهنگی، قضایی و غیره به عمل می آید داخل در قلمرو پیشگیری اجتماعی اند.

اقدامات مانند توزیع عادلانه ثروت در جامعه، از بین بردن بی عدالتی ها و نا برابری های اقتصادی، فراهم آوردن امکانات کار و اشتغال برای همه کسانی که استعداد و توانایی کار کردن را دارند، فراهم آوردن شرایط و امکانات زندگی مرفه، فقر زدایی، جرم زدایی، توسعه و تقویت نهاد هایی چون خانواده، مدرسه، همکاری و تعامل میان سازمان ها و نهاد های مختلف اجتماعی و اجرای برنامه ها و سیاست های مختلف پیشگیری جزو اقدامات پیشگیرانه اجتماعی اند.

## پیشگیری وضعی از جرم

مبتکر اصلی نظریه پیشگیری وضعی از جرم اقای رونالد کلارک انگلیسی است. وی در کتاب خود تحت عنوان حالت پیشگیری از جرم که در سال ۱۹۹۲ منتشر کرده است، در مورد تعریف پیشگیری وضعی از جرم می گوید: پیشگیری وضعی از جرم به یک دیدگاه پیشگیرانه ای اشاره دارد که نه بر توسعه جامعه و نهاد های آن، بلکه صرفاً بر کاهش موقعیت ها و فرصت های ارتکاب جرم مبتنی است... پیشگیری وضعی اقدامات پیشگیرانه مبتنی بر کاهش فرصتی را شامل می شود.

کلارک شیوه ها و روش های مختلف پیشگیری وضعی از جرم را بر اساس این تعریف، به چهار گروه عمده تقسیم کرده است که عبارت است از:

**افزایش زحمات ارتکاب جرم**

از طریق تقویت و سخت کردن اجرای جرم مانند: نصب قفل امنیتی روی فرمان موتر یا کنترول راه های دخولی به مکان های مختلف، ایجاد موانع در اطراف حیاط خانه و باغ و نصب کارت شناسایی یا توزیع کارت شناسایی برای افراد یا از طریق کنترول کردن و ایجاد محدودیت برای استفاده از ابزارهای تسهیل کننده ارتکاب جرم مثل منع حمله اسلحه، نصب فن آوری های لازم روی تلفن ها برای شناسایی تلفن کننده به منظور پیشگیری از **مزاحمت های تلفونی.**

افزایش خطرات ارتکاب جرم

از طریق تحت نظر قرار دادن راه های دخولی و خروجی در اماکن عمومی مانند پولیس گزمه های مرزی، نظارت رسمی مانند استفاده از زنگ دزد گیر، گزمه های پولیس، نظارت به وسیله کارمندان مثل استفاده از همکار راننده ملی بس برای جلوگیری از ندادن تکت یا از طریق نظارت طبیعی مانند چراغانی کردن سرکها، داخل بانک ها و دوکان ها و ایجاد فضای قابل دفاع.

کاهش دستاورد ها و منافع جرم

از طریق جابجایی و برداشتن هدف اجرای جرم مانند پارک نمودن وسایط مسافر بری در پارکینگ وسایط، استفاده از کارت های ماشین اتومات صرافی به جای پول نقد به منظور جلوگیری از سرقت پول یا نشانه گذاری اموال مثل نشانه گذاری و داغ نهادن بر حیوانات **برای جلوگیری از سرقت... .**

حذف معاذیری که افراد را به جرم می برد

از بین بردن عواملی که باعث تحریک یا تشویق فرد به ارتکاب جرم می شود و در برخی از موارد می تواند به عنوان عذری مطرح گردد، از طریق بر قراری مقررات گمرکی برای اعلام کالای همراه مسافر به ماموران، تحریک وجدان، آگاهی و غیره. به طور خلاصه می توان گفت در پیشگیری وضعی ما با استفاده از شیوه ها وروش های چون تقویت اهداف جرم استفاده از تکنولوژی مراقبتی و کنترولی و مدیریت طراحی محیطی به دنبال کاهش فرصت ها و موقعیت های ارتکاب جرم و تسلط بر شرایط و اوضاع و احوال پیرامون جرم و نتیجتاً جلوگیری از وقوع جرم هستیم.

**نتیجه:** با توجه به آنچه گفته شد می توان به این نتیجه رسید که پیشگیری اجتماعی، یک نوع پیشگیری علت شناختی و مرتکب محور است ، اما پیشگیری وضعی یک نوع پیشگیری مدیریتی (مدیریت ریسک ارتکاب جرم) و متضرر مدار است. پیشگیری اجتماعی به لحاظ نظری عمدتاً مبتنی است بر تئوری های بنیانگذاران مکتب محیط اجتماعی، مکتب جرم شناسی سوسیالیستی تئوری کنترل اجتماعی و تئوری های بنیانگذاران مکتب محیط اجتماعی، مکتب جرم شناسی سوسیالیستی تئوری کنترول اجتماعی و تئوری خود کنترولی. در حالیکه پیشگیری وضعی از جرم مبتنی است بر تئوری های بنیانگذاران جرم شناسی مدیریتی که از مهمترین آنها می توان به تئوری فضای قابل دفاع تئوری فعالیت روز مره و تئوری انتخاب عقلانی اشاره کرد.

**منابع**

**۱- معین، فرهنگ لغتنامه.**
**۲-گسن، ریموند، جرم شناسی کاربردی، ترجمه: مهدی کی نیا، چاپخانه علامه طباطبایی، تهران، ۱۳۷۰، ص ۱۳۳.**
**۳-رحیمی نژاد، اسمعیل، جرم شناسی، تهران، ناشر، فروزش، ۱۳۹۲، ص ۱۱۵.**
**٤-همان، ص ۱۱٦- ۱۱۷.**
**۵-صفاری، علی، مبنای نظری پیشگیری از جرم، تهران، ۱۳۸۰، صص۲۹۲- ۲۹٦.**

# درنگی در مورد عدالت

محمد فرید (( فرهمند ))

## معنی لغوی عدالت

عدالت، ضد ظلم و دادگری مترادف فارسی آن است. عدال به معنای راستی، درستی، دادگری، داد، همتا، لنگه، میانه¬روی و مساوات آمده است. ابن منظور «اعتدال» را حدّ وسط در میان دو وضعیت یا حالت در اندازه و چگونگی می¬داند، و آنچه مایه اعتدال در نفس انسانی می¬شود، عدالت است.(علی شیرازی، ج ۹ ص ۸۳). همچنان آمده است: ظلم را تجاوز از حد و گذاشتن چیزی در « غیر ماوضع له» و محل نامناسب آن است.

## تعاریف عدالت

در منابع مرتبط، از عدالت تعاریف مختلف آمده است. افلاطون در تعریف عدالت میگوید: « عدالت آن است که هرکس آنچه را که حق اوست به دست آورد و حرفه‌ای در پیش گیرد که استعداد و شایستگی آن را دارد». افلاطون همچنان میگوید: « پرداختن به کارخود و پرهیز از دخالت در کار دیگران عین عدالت است»( اصغری، ۱۳۸۸: ۲۵).

هریک از قوای سه¬گانه ( عقل، خشم و شهوت) باید در جای خود قرار گیرند و عقل باید بر دو قوای دیگر حاکم و مسلط باشد؛ همینگونه حکومت نیز شایسته حکیمان و فرزانگان است و عدالت آن است که دو طبقۀ دیگر ( نظامیان و عام مردم) مطیع حکیمان باشند.(همان، ۲۵). از نظر ارستو عدالت عبارت است از همان اعتدال و میانه¬روی، و میگوید: « ... بهترین نوع زندگی آن است که بر پایه میانه¬روی و اعتدال استوار باشد...»، به عبارت دیگر، رعایت حد وسط میان( افراط و تفریط)، عدالت است. از نظر ارستو، عدالت مادر سایر فضیلت¬هاست و فضیلت چیزی در حد وسط است.

متفکران و دانشمندان رومی که عقل سلیم و قانون طبیعی(حقوق فطری) را مبنای حقوق میدانستند، عدالت را همان «قانون طبیعی و تحقق آن»، تعریف می¬کنند. سیسرون می¬گوید:«عدالت عبارت است از قانون طبیعی و قانون طبیعی همه¬جا یکسان، تغییرناپذیر، ابدی و برای همگان و همۀ دولتها الزام¬آور است. همه قوانین برای آنکه عادلانه باشند، باید با قانون طبیعی هماهنگ باشند. عقل سلیم انسان، معیار هماهنگی قوانین با قانون طبیعی است، قانون طبیعی را خداوند مقرر کرده است.»(عالم، ۱۳۷۷، ج ۱، ص ۳۱).

در نگاه فلسفه رواقیان چون افراد بشر همه از عقل بهره¬ورند، به یک میزان از قانون طبیعی اطلاع دارند. قانون طبیعی مظهری از عقل جهانی است. بر این اساس در روم « مفهوم قانون شامل حال همگان» پدیدار شد و در تعریف عدالت مفهوم « نفع مشترک» هم لحاظ گردید. در قرون وسطی، متألهان مسیحی، عدالت را در متن الهیات مسیحی مطرح می¬کنند و مباحث عدالت از اندیشه¬های سیاسی فاصله می¬گیرند و به علم کلام در مسیحیت نزدیک می¬شوند. در این برهه تاریخی که زمانی درازی را به خود اختصاص می¬دهد، سخن بیشتر از عدالت تکوینی است و در حقیقت (کار قیصر را به قیصر» وامی¬گذارد. سنت آگوستین(۴۳۰- ۳۵۸م)، عدالت را انطباق با نظام الهی تعریف می¬کند. توماس آکوئیناس هم(۱۲۲۵- ۱۲۷۴م)، قانون بشری را لزوماً انعکاسی از قانون الهی می¬شمارد و معتقد است که قوانین بشری باید انعکاسی از قوانین الهی باشد. برهمین اساس می¬توان گفت، عدالت در نظر آکوئیناس امری بشری نیست، بلکه امری از امور الهی است.( اصغری،۱۳۸۸: ۲۶).

هابز در تعریف عدالت می¬گوید: « عدالت دقیقاً عبارت از وفا به عهد و پیمان است، در صورتی که دیگران هم به قول و قرار خود وفا کرده باشند.»؛ در نظر کانت عدالت هر عملی است که بنیادش بر این باشد که آزادی هرکس با آزادی همه کسان سازگار گردد، حکم کلی در این باب این است که: « چنان عمل کن که آزادی تو طبق یک قاعده کلی، با آزادی همه مردم سازگار باشد.» در واقع کانت مجموعه شرایطی را عادلانه می¬داند که در آن ارادۀ فرد بر طبق قانون عام آزادی، با ارادۀ دیگران جمع شوند.؛ از نظر اندیشمندان قرن بیستم از جمله «راولز» بار دیگر تحولی در توصیف عدالت رخ می¬دهد. راولز در تعریف عدالت می¬نویسد: « عدالت در اصل عبارت است از حذف امتیازات بی¬وجه و ایجاد تعادل واقعی در میان خواسته¬های متعارض انسانها، در ساختار یک نهاد اجتماعی.»( همان، ص ۲۷).

از نظر حکمای اسلامی، تعاریف عدالت، بیشتر شبیه به تعریفهایی است که طرفداران حقوق فطری ارائه کرده¬اند، مثلاً از نظر فارابی عدالت: قراردادن امور در جایگاه حقیقی خود، رعایت استحقاق و اهلیت و وسطیت و تساوی حقیقی است.

درنهایت؛

مواردی که در رابطه به تعریف عدالت بیان گردید، دیدیم و برداشتهای مختلفی که فیلسوفان غربی از این مفهوم ارائه داده اند، میتوان گفت:

از نظر دانشمندان یونان قدیم( سقراط، افلاطون و ارسطو) عدالت مفهوم انتزاعی دارد، که تنها حکیمان و فرزانگان آن¬را می¬شناسند و عدالت نوعی تعادل بین قوای وجود انسان است و همین تعادل در جامعه نیز باید تحقق یابد. عدالت ماهیتی از پیش داده شده دارد، که همه نمی¬توانند آن را کشف کنند. در نظر ارسطو، رفتار برابر با افراد نابرابر عدالت نیست. پس رفتار برابر با افرادی ظاهراً متفاوت، نوعی ستم تلقی می¬شود و رفتار نابرابر با اقشار متفاوت عین عدالت است. به اساس این دیدگاه، در حقیقت، عقل عدالت¬یاب است، نه عدالت¬ساز.

از نظر متألهان مسیحی، بحث بیشتر از عدالت تکوینی است و قانون بشری باید انعکاسی از قوانین الهی باشد. عدالت امری بشری یا بشر ساخته نیست، بلکه امری الهی است.

خلاصه آنکه، در تعریف عدالت، دیدگاه های مختلفی مطرح گردیده که بر مبنای گوناگونی چون عقل، طبیعت، شرع و یا احساس منفعت مبتنی هستند.

**منابع:**

**۱-ابن منظور، محمد، لسان-العرب، تعلیقیه، علی شیرازی، ۱۴۰۸ ه ق**
**۲-اصغری، سید محمد. ۱۳۸۸. عدالت به مثابۀ ( قاعده)، اطلاعات، تهران.**
**۳-عالم، عبدالرحمن، تاریخ فلسفه سیاسی غرب، ۱۳۷۷،**

# ځيني فکرونه زموږ ذهنونه په لنډ مهالو او بېځايه استدلالونو بوخت ساتي

ازهر احمدي

دا خو ښکاره خبره ده چې د ژوند په اوږدو کې زموږ او ستاسې ذهنونو ته ډول ډول فکرونه راځي او ځي. که زموږ او ستاسي خوښه وي او که خوښه مو نه وي، فکرونه زموږ ذهنونه بوخت ساتي. ذهن ته سوچونه په مختلفو بڼو راڅرګندېږي. ځيني فکرونه ګټور هم وي او يا که وغواړو ځيني فکرونه د مثبتې او سمې لارې پر خوا رهنمايي کولای هم شو، خو ځيني فکرونه بيا ډېر ځوروونکي او وېروونکي وي. دا ډول فکرونه هم په ډول ډول بڼو زموږ ذهن ته راځي. ځيني يې د لويو بلاګانو په څېر ډاروونکي وي او موږ نه پرېږدي ،چې د خپل هدف په لور لاړ شو. دا ډول فکرونه د يوې تورې بلا په څېر موږ ته اخطارونه راکوي او وايي: که دا کار تر سره کړې او يا که په دې کس باور وکړې په نيمه لاره کې به دې پرېږدي. که له دې ډول فکرونو وډار شو او له خپلې لارې را وګرځو، بلا له موږ لاس نه اخلي او په هره لاره کې به زموږ مخې ته ولاړه وي. له دې ډول بلا ډوله سوچونو څخه د ځان د خلاصون لاره داده، چې خپل حرکت ته د خپل هدف په لور دوام ورکړو او پرېږدو، چې دوی زموږ غوږونو ته خپلې د وېرې او ډار خبرې راورسوي، خو موږ له خپل هدف څخه تېر نه شو. دا په دې مانا ده لکه، که موږ په يوه موټر کې د خپل هدف په لوري روان واوسو، په دې وخت کې دغه بلاوې هم له موږ سره په دې موټر کې يو ځای وي او په خپلو وېروونکو غږونو غواړي موږ له دې حرکت څخه راوګرځوي، خو سره له دې ،چې موږ د دې بلاګانو خبرې اورو، خو بيا هم خپل حرکت ته دوام ورکوو. په پای کې موږ خپل هدف ته رسېږو او بلاوې زيږ غوږونه له موټر څخه ښکته کېږي او پر خپله مخه ځي. ځيني فکرونه زموږ ذهنونه په لنډ مهالو او بې ځايه استدلالونو بوخت ساتي او د لنډ مهال لپاره موږ په دې باوري کوي ،چې البته موږ په دې کار سره مثبتې خواته حرکت کوو. دا ډول سوچونه هم بې لارې کوونکي دي. که دا ډول فکرونه له يوې رسۍ سره پرتله کړو ، دا په دې مانا ده ،چې د رسۍ دواړه سرونه زموږ په لاس کې دي او خپل ځان ته په دواړو خواوو کې استدلال په خپله کوو. له دې ډول سوچونو د خلاصون لاره داده، چې د رسۍ دواړه خواوې ،خوشې کړو او رسۍ له ځانه لرې وغورځوو. ځيني فکرونه په داسې شکل زموږ ذهنونو ته راځي، چې موږ ته ډېر مهم ښکاري او موږ په دغه ډول سوچونو پورې کلک ځان نښلوو، خو دا ډول فکرونه د دې پر ځای چې له موږ سره مرسته وکړي، زموږ وېره او ستونزې نورې هم زياتوي. له دې ډول فکرونو د ځان ژغورلو طريقه په ساحه کې د ستونزو قبلول دي. په دې سره موږ کولای شو، چې ځان د راتلونکو ستونزو پر ضد ښه چمتو کړو. دا ډول فکرونه هغې کوچنۍ نجلۍ ته ورته دي ،چې ښوونځي ته د تګ پر وخت يې د مور لمن کلکه نيولې وي او له وېرې نه غواړي ،چې يوازې ښوونځي ته لاړه شي. که په همدې ډول تګ ته دوام ورکړي د دې پر ځای ،چې وېره يې کمه شي نوره هم زياتېږي او که يوه ورځ پر ځان وېره قبوله کړي او بې له موره ښوونځي ته لاړه شي، په دويمه ورځ به قطعاً ونه وېرېږي. د امريکا د بهرنيو چارو پخوانۍ وزيره هېلري کلنټن وايي: کله چې به ښوونځي ته تلم، ډېره به ډارېدم او يوې نجلۍ به ډېره ځورولم. يوه ورځ مې مور ته له خپلې وېرې وويل: مور مې راته لارښوونه وکړه، چې که نور هغې نجلۍ وځورولې ته يې هم وځوروه. دا وايي، کله چې ټولګي ته لاړم نجلۍ غوښتل، چې را باندې وار وکړي، زه ور مخکې شوم او ګذار مې پرې وکړ، له دې ورځې وروسته بيا هېچا ونه ځورولم. ځيني فکرونه بيا موږ د خپلو انديښنو په واسطه غښتلي کوو. موږ فکر کوو که د يوې پېښې په هکله انديښنه وکړو، زموږ د خونديتوب سبب به شي، خو داسې نه ده څومره چې موږ په خپل ذهن کې انديښنو ته ځای ورکړو همغومره به موږ لا ډېر وځوروي. له داسې فکرونو د خلاصون لاره داده، چې پرېږدو سوچونه زموږ له څنګه تېر شي او په خپل تحت الشعور کې ځای ورنه کړو. داسې فکر وکړو لکه په سيند کې د کښتيو تګ. کله چې کښتۍ زموږ خواته نږدې کېږي، بې له ځنډه زموږ له څنګه تېرېږي، ورپسې بله را روانه وي. پرېږدی ،چې دا جريان همداسې روان وي، نه يې په شمارلو او نه يې په رنګ او نورو شيانو ځان بوخت وساتو. ځيني منفي فکرونه موږ په خپله چاغوو او ډېر اهميت ورکوو، له دې سره موږ فکر کوو، چې دا ډول فکرونه به موږ سره ګذاره وکړي، حال دا چې هغه لا غښتلي کېږي او تر دې حده، چې بيا يې مخه نه شو نيولی. دا په دې مانا ده کله چې د پړانګ بچي په کور کې غټوو او په هر ځلې غورېدلو د دې لپاره، چې ارام شي د غوښې يوه ټوټه ورکوو. سمه ده ،چې دا به قرار شي، خو له دې سره نور هم قوي او لويېږي. کله چې لوی شي او بيا ورته د غوښې د ورکولو توان ونه لرو، همغه دی، چې پړانګ بيا د خپل خاوند لحاظ هم نه کوي او د ځان د مړولو لپاره خپل خاوند هم له ستوني تېروي. منفي او غلط فکرونه هم همداسې دي که پر وخت او په موقع يې له ځانه لرې ونه غورځوو بيا د پړانګ د بچي په څېر يو وخت دومره غښتلي وي ،چې مقابله يې بيا زموږ له توانه بيرون وي.پايله دا ،چې د بېځايه او له هغو سوچونو څخه، چې زموږ د پرمختګ په مخکې خنډ جوړوي او زموږ د أزار او وېرې سبب ګرځي ځان ژغورل له خپل ځان او خپل پر مختګ سره مرسته کول دي.

د ماتيو مککي او کاتړين ستکر ليکنه

- د صالح محمد صالح ژباړه

## بزګران د مسئولو...

ترڅنګ په ټولیزه توګه په هيواد کې د کرنيز بهير پراختيا او مدرنيزه کول په حقيقت کې يو لومړيتوب دی او د افغانستان د اسلامي امارت مشرتابه او اړوند مسئول چارواکي هم دهيواد د کرنې د پراختيا او مدرنيزه کولو په برخه کې بايد لازم پروګرامونه طرحه اوپلي کړی اوپه دې موخه د کورنيو پانګوالو ترڅنګ د نړۍ دمرستندويو هيوادونو(په ځانګړې توګه د اسلامي هيوادونو) او خيريه بنسټونو هراړخيزې مرستې هم راجلب او د يوسالم او منظم پروګرام له مخې يې دهيواد د کرنې، مالدارۍ او بڼوالۍ چارو په پراختيا او مدرنيزه کولو او په هيواد کې د موجودو اوبو د ښه مديريت کولو پرچارو ولګوي چې پرمټ يې له يوې خوا د خلکو د بوختيا اوله بلې خوا د هيواد د اقتصاد د پرمختګ له پاره هر اړخيزه زمينه برابره شي.

## صنعت قالینبافی یکی...

برای سرمایه گذاری نیست.مسئولین امارت اسلامی افغانستان از سکتور خصوصی ،پیشه وران وصنعتکاران می خواهد که با ارائه طرح های سازنده زمینه را برای تولیدات و صادرات بیشتر فراهم سازند.در دو سال گذشته وزارت صنعت و تجارت اهمیت صنعت قالین را در اقتصاد کشور مهم می داند و تلاش می ورزد که در بخش قالین برنامههای روشنی را عملی سازد و قرار است که در آینده نزدیک در این بخش بیشتر از صنعت قالین بافی حمایت کند و برنامههای سازنده یی را عملی نماید.

## راهکارهای تحقق ...

ساختن نظام مالیاتی در اسلام مطابق آیات و روایات، پرداخت مالیات ثابت نظیر خمس و زکات، فرمان الهی است و بر انجام آن آثار مثبت اجتماعی نظیر رشد سرمایه و تحقق عدالت اجتماعی و بر ترک آن، آثار منفی نظیر قحطی و فقر اجتماعی مترتب است و رسول خدا (ص) در این خصوص می¬فرماید:

ترجمه: امت من همواره در وضعیت خوبی به سر خواهند برد مادام که به یکدیگر خیانت نکنند امانت را به اهل و صاحبش بر گردانند و زکات بدهند و اگر این کارها انجام ندهند گرفتار قحطی وتنگی معیشت خواهند شد. ( الحراعاملی، ۱۳۸۲).

همچنان امام صادق علیه السلام نیر در این خصوص می¬فرماید:» ولو ان الناس ادوا زکات اموالهم ما بقی مسلم فقیراً .. (همان، ۴/۶).

ترجمه: اگر مردم زکات مالشان را بدهند هیچ مسلمانی فقیر و نیازمند باقی نمی¬ماند.

همچنین آن حضرت می¬فرماید: «

ترجمه: این طور نیست که کسی زکات بدهد و مالش کم شود و یا اینکه زکات ندهد و ماش فزونی پیدا کند. (همان ۱۲)

همین طور رسول خدا می¬فرماید: «

ترجمه: اگر زکات پرداخت نشود زمین از دادن برکاتش دریغ می¬کند. (همان ۱۴)

لذا حاکم باید این گونه مالیات ها را به صورت قانونمند از مردم اخذ کند . چنانچه علی علیه السلام می¬-فر ماید: « یجبر الامام الناس علی اخذ الزکاه من اموالهم لان الله یقول: « خذ من اموالهم صدقه» ( بحار، ۸۶/۹۶ به نقل از حکیمی، ۱۳۷۴)

نتیجه گیری: از مجموع آن چه ذکر شد این نتیجه حاصل می¬شود که تحقق عدالت اجتماعی مستلزم شایسته سالاری در تمامی سطوح اجرایی، تقنینی و قضایی، ترویج معنویت و جلوگیری از زمینه¬های گناه در جامعه و نیز تأسیس نظام تعاون و تأمین رفاه اجتماعی، ایجاد تحول در نظام وقف، گسترش فرهنگ وقف و بهره برداری بهینه از آن همچنین عملیاتی ساختن نظام مالیاتی اسلام و دریافت قانونمند مالیات ثابت، راهکار¬های تحقق عدالت اجتماعی است.

منابع

۱.الأمدی التمیمی، عبدالواحد( ۱۴۱۰ ق) غررالحکم. قم: دارالکتاب الاسلامی.
۲.الحر العاملی، محمد حسن (۱۳۸۲) وسایل الشیعه. بیروت: دار احیاء التراث العربی، ۲۸۲/۱۲ .
۳.الحرانی، بن شعبه( ۱۴۲۵ ق) تحف¬العقول. قم: دفتر نشر فرهنگ اسلامی.
۴.حکیمی، محمد رضا(۱۳۷۴) الحیات. تهران: دفتر نشر فرهنگ اسلامی.
۵.کلینی، محمد بن یعقوب( ۱۳۸۱ق) اصول کافی. تهران:نشر آخوندی، ۶۶۸/۲.
۶.نهج البلاغه( ۱۳۸۸) ترجمه محمد دشتی. قم:انتشارات دارالعلم.

## پنجشېر او خلک يې...

او د روسانو په وړاندې جهاد د افغان ولس په حافظه کې ثبت دي.ده له افغانستانه بهر مېشتو کسانو ته په خطاب کې وويل، چې په افغانستان کې د جګړې لپاره هيڅ عذر او مشروعيت نشته، اشغال پای ته رسېدلی او اسلامي نظام رامنځته شوی او د دغه نظام پر ضد پلمې کول هيڅ مشروعيت نه لري. د کورنيو چارو وزارت سرپرست له هغو کسانو څخه، چې له هېواده بهر تللي، وغوښتل چې بېرته افغانستان ته راشي او د خپل هيواد په پرمختګ کې ونډه واخلي.ده زياته کړه، چې د پنجشېر خلک خپلو مشرانو ته وفادار وو او له همدې امله ځورېدلي دي. خو اوس دوی په دې پوه شوي، چې مشرانو يې غفلت کړی او د شخصي موخو لپاره يې کارولي.

حقاني په دې غونډه کې خپلو خبرو ته دوام ورکړ او ويې ويل: موږ تېر هېر کړی او له هر ډول تبعيض او وېرې څخه د روښانه راتلونکي پر لور ګام اخلو.ده څرګنده کړه: (( دا د تېرو شلو کلونو د سرښندنې پايله ده، چې لسګونه ګوندونه له لسګونو بيرغونو څخه تر يوه سپين بيرغ لاندې سره راټول شوي دي.)) د کورنيو چارو وزارت سرپرست ټينګار وکړ: زموږ د ژوند او پولو امنيت خوندی دی.د يادونې وړ ده، چې دا په تېرو دوو کلونو کې پنجشېر ته د سراج الدين حقاني لومړی سفر دی. که څه هم دغه ولايت د اسلامي امارت د واکمنۍ پر مهال د اسلامي امارت د مخالفينو له لوري د ځينو امنيتي ضد کړنو شاهد و، خو پنجشير له تير يو کال راهيسې په بشپړ امنيت کې ژوند کوي.

## د قوش تېپې کانال ...

کانال د قراردادي انجنير نصرت الله اميري په وينا: د کانال لومړي فاز، چې ۱۰۸ کيلومتره دي، کاري چارې يې سل سلنه پای ته رسيدلي دي، خو د ياد کانال د سربند چارې نيمګړې پاتې دي. نوموړي زياتوي، د دويم فاز کاري چارې به هم ډېر ژر پرته له کوم ځنډه پيل شي.(( د لومړي فاز چارې چې په سربند کې له صفر نه، د کلدار ولسوالۍ څخه پيلېږي او د بلخ ولايت تر دولت آباد ولسوالۍ پورې رسېږي ۱۰۸ کيلومتره دي، چې اوسمهال يې کاري چارې بشپړې شوي دي))بل لور ته په شمال زون کې د سينديزې حوزې رئيس، حاجي حکمت حکمت وايي: هغه ټولې ګنګوسې دروغ دي، چې ګواکې د قوش تېپې کانال کاري چارې درېدلې او اسلامي امارت يې د چارو د مخته وړلو لپاره کافي بوديجه او مسلکي انجنيران له ځانه سره نه لري. په شمال زون کې د سېنديزې حوزې رئيس، حاجي حکمت حکمت په دې اړه وايي:(( موږ ملت ته دا ډاډ ورکوو، چې دا کانال به موږ سرته رسوو، ددې وطن د دښمنانو دا تبليغات له پخوا نه وو، چې اسلامي امارت دا کار نه شي بشپړولی، دوی به ويل چې د قوش تېپې کانال نه شي شروع کولی، چې الحمدلله کارونه يې شروع شول. مخالفانو اوس دا تبليغات پيل کړي، چې د کانال چارې په ټپه ولاړې او بندې دي، دا هر څه پروپاګند دي، انشاءالله ډېر ژر به د کانال د لومړي فاز ټولې چارې پای ومومي)) د ملي پراختيا شرکت د معلوماتو له مخې: د قوش تېپې کانال د لومړي فاز د سربند، رېل پټلۍ او ترانسپورټي پلونو د کاري چارو له بشپړېدو سره سم، به د ياد کانال د دويم فاز چارې له کوم خنډ او ځنډ پرته ډېر ژر پيل شي.د قوش تېپې کانال د منځنۍ آسيا په کچه ستره پروژه بلل کېږي، چې چارې يې دوه کاله وړاندې د اسلامي امارت د مسئولينو له لوري، د داخلي عوايدو په تمويل پيل شوې او دمګړی يې چارې په چټکۍ سره روانې دي.

## د پکتيا د څمکنيو..

د تغذيې لپاره څه نشته، نو زه مجبور يم کابل کې صحت طفل ته يې يوسم، دلته امکانات کم دي.))په ورته وخت کې د څمکنيو ولسوالۍ د ۷۰ بستريز روغتون مسئولين هم وايي ،چې مراجعين يې زيات، خو امکانات يې کم دي.د څمکنيو روغتون مشر ډاکټر امانالله منګل وايي، ياد روغتون ته د ورځې له ۳۰۰ تر ۷۰۰ ناروغان مراجعه کوي چې ياد شمېر ته په کتو امکانات يې کم او نهشي کولای ناروغانو ته سم خدمات وړاندې کړي.د نوموړي په وينا: د درملو د کمښت ترڅنګ روغتون انتظارخونه هم نهلري ،چې خلک له ډېرو ستونزو سره مخ دي.نوموړي زياته کړه، چې د ورځې درې تر څلور داسې ناروغان هم ورځي ،چې بايد کابل ته ولېږدول شي، خو يوازې يو امبولانس لري او نهشي کولای ناروغان ولېږدوي. ده وويل: (( دې روغتون ته يوازې يوه ولسوالۍ نهلکې اووه ولسوالۍ دي، چې مراجعه کوي، نو امکانات او درمل د يوې ولسوالۍ لپاره راځي، خو مراجعين د شپږو يا اوو ولسواليو دي، نو د درملو برخه کې له ستونزې سره مخ يو، څکه ورځني ناروغان زيات وي او درمل کم وي.))د پکتيا د روغتيا رياست مسئولين بيا وايي: د څمکنيو روغتون د ستونزو د حل لپاره خپلې هڅې کوي ،چې ځينې به يې ډېر ژر حل کړي. د پکتيا د روغتيا رئيس خيرمحمد وايي: د څمکنيو ولسوالۍ روغتون کې به د پيوازانو لپاره انتظارخونه جوړه او د امبولانس شمېر هم زيات کړي.ده وويل: (( د درملو په تړاو مو د ادا موسسې ولايتي دفتر او يونېسف سره موضوع شريکه کړې او همدارنګه زموږ د فارمسي سټاک نه هم د ضرورت وړ درمل وخت په وخت يوازې ياد روغتون ته نه، بلکې نور، چې څومره روغتونونه دي ټولو ته ورکړي.))د څمکنيو ولسوالۍ چې له مرکز ګرديز څخه شاوخوا ۷۰ کيلومتره لرې پرته ده ګڼ نفوسه ولسوالۍ ده، روغتون ته يې د نورو ورڅېرمه احمدخېلو، لجه منګل، جانيخېلو، ډنډپټان او د ميرزکې ولسوالۍ اوسېدونکي هم مراجعه کوي ،چې له کبله يې روغتون کې امکانات کم او ناروغان زيات دي.

## لغمان کې ۱۲۵۰...

ډالرو په بدل کې د مرکز مهترلام ،علينګار، عليشنګ او د دولت شاه ولسواليو اړوند په انتخاب شويو سيمو کې د ويالو، کانالونو او نورو برخو کې کار پيل کړي.

## د روان کال بودجه...

دغه بودجه به پر بنسټيزو پروژو ولګول شي. له دې سره سم، د اقتصاد وزارت ټينګار کوي چې سږ کال کومې پروژې پلي کېدونکي دي هغه به په لنډه موده کې افغانستان د پر ځان بسياينې لور ته بوزي. مسئولين بيا وايي: ټولې پراختيايي پروژې دننه په هيواد کې له کورنيو عوايدو او د کانونو له لارې تمويلېږي. په دې وروستيو کې د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت د ۶ ميليارده افغانيو په ارزښت په بېلابېلو برخو کې د ۲۵ پروژو له عملي کېدو خبر ورکړی او اوسمهال د قوش تېپې کانال، د سالنګ لويې لارې، د کابل-کندهار لارې او پرلسګونو نورو پروژو سربېره، د اوبو مديريت، روغتيا او کرنې په برخو کې د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کې پر لويو پروژو کار روان دی.

## په لوېديځ زون کې ...

د امنيت تامينول دي، چې د اسلامي امارت نظام ورته برابر کړی دی. د هرات د والي په وينا، پوليس دنده لري چې د خلکو امنيت تامين کړي او له هغوی سره ښه چلند وکړي. ويل کېږي ،چې په هيواد کې داسلامي امارت دحکومت له رامنځته کېدو وروسته څه دپاسه پنځه زره پوځيان په لويديځه حوزه کې له ضروري پوځي زده کړو وروسته په دندو ګومارل شوي دي .

## ۲۵ زره کورنيو او...

، هند، پاکستان او سعودي عربستان څخه زيات بهرني سيلانيان راغلي، چې د واخان ملي پارک يې زيات کتلي دي.په همدې حال کې د ګوارا هوا، لوړ غرونه، توند سمندرونه، ژور ځنګلونه، تاريخي آبدات او اثار، لرغوني او اصلي او متنوع ځنګلي ژوند، په زړه پورې ولاړې اوبه، د بدخشان شنه، پراخه او ځانګړې جغرافيه تل د بهرنيو او کورنيو سيلانيانو پام ځانته وراړوي. دغه راز د نادرو وحشي ژويو لکه مارکوپولو هرن، مارجورام وزې، هيبسکوس، واورو ليوپرډ او ۳۰۰ ډوله مرغانو شتون د بدخشان جادويي طبيعت ته د سيلانيانو پام ور اړولي او د دغه سياحت د صنعت په وده کې يې خورا مهم رول لوبولی دی.

## فارياب کې نابينا مېرمنې...

(( موږ نابينا يو اواقتصادي ستونزې لرو. له حکومته غواړو چې موږ ته د حرفوي زدهکړو زمينه برابره کړي، څو يو څه زدهکړو، چې لاس مو چا ته ونهغځېږي او خپله خپل ژوند وکړو.))په ورته وخت کې، د فارياب د کار او ټولنيزو چارو رئيس ريحانالدين متوکل دغه ولايت کې د نابينايانو ستونزې تائيدوي او وايي: دوی هڅه کوي چې له اړوندو بنسټونو سره پر همغږۍ نابينايانو او معلولينو ته د حرفوي زدهکړو او کار زمينه برابره کړي.ده وويل: (( دا ستونزه به د اړوندو بنسټونو له مسئولينو سره شريکه کړو او هڅه کوو ،چې په همغږۍ يې د معلولانو او بېوزلو ستونزې حل او د کار زمينه ورته برابره کړو. همداراز د حرفوي زدهکړو د کورسونو رامنځته کولو برخه کې هم خبرې روانې دي.)) فارياب کې د نابينا او د معلولينو د بنسټونو مسئولين وايي ،چې د دې ولايت نابينايان او معلولين ښې وړتياوې لري، خو په وينا يې، د کاري زمينې او حرفوي زدهکړو د نشتون له کبله يوه نامعلوم برخليک سره مخ دي.

Hewad Daily

یکشنبه د ربیع الاول ۱۶مه ۱۴۴۵ق کال د ۱۴۰۲ ل کال د تلې ۹ مه د 2023 م کال دسپتمبر ۳۱مه

د ورځپاڼو رئیس : م محمد ابراهیم نبیل
موبایل : ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
آمر او مسئول مدیر : عطاء الله مبارز
موبایل: ۰۷۷۴۳۱۸۹۰۲
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوې ودانۍ
د اړیکو شمېره: س۱۰ ۲۵۲۶۳۱ - ۰۲۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیواد ورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
ویب سایت: www.hewaddaily.com
د شکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳-۰۲۰۲۱۰۶۹

چارواکي:

# افغانستان د ۳۰ زره میګاواټه برښنا د تولید ظرفیت لري

د اوبو او برښنا وزارت مسئولین وايي، چې هیواد کې د انرژۍ له بېلابېلو منابعو څخه د ۳۰ زره میګاواټه برښنا د تولید ظرفیت شته، چې دا د افغانستان له اړتیا څخه څو برابره زیاته ده. د اوبو او برښنا وزارت د مسئولینو په وینا د مګړی افغانستان د کال ۳۰۰ میلیونه ډالره ګاونډیو هیوادونو ته د انرژۍ د مصرف له پلوه ورکوي. یاد وزارت زیاتوي، چې افغانستان کې د انرژۍ د تولید په هر سکتور کې، چې خصوصي سکتور د پانګونې لېوالتیا ولري د اوبو او برښنا وزارت ورسره همکارۍ ته چمتووالي لري او دوی ته د پانګونې تولې آسانتیاوې په نظر کې نیول شوي. د اوبو او برښنا سرپرست وزیر ویلي، چې په هیواد کې د وروستۍ وچکالۍ له امله د خلکو ستونزې زیاتې شوي او زیاتوي چې د هیواد د اوبو د منابعو د مدیریت لپاره یې پنځه کلن پلان جوړ کړی دی.



## لغمان کې ۱۲۵۰ تنو ته د کار زمینه برابره شوې

د لغمان د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست مسئولین په دې ولایت کې ۱۲۵۰ کسانو ته د لنډ مهاله کاري زمینې د برابرولو خبر ورکوي. د دغه ولایت د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست ویلي، چې د(UNHCR) موسسې په مالي ملاتړ راستنېدونکو، داخلي بېځایه شویو او بې وزله ۱۲۵۰ تنو ته د یوې میاشتې لپاره په خپلو سیمو کې د کار زمینه برابره شوه. ولایتي چارواکي وايي، دغه کاریګر چې ۱۰۰۰ تنه یې نارینه او ۲۵۰ ښځینه دي، د یوې میاشتې لپاره به د ۱۵۰ امریکایي **۵مخ**

## بلخ کې د طبي تجهیزاتو او درملو د زېرمه کولو مرکز ګټې اخیستو ته وسپارل شو

د بلخ د عامې روغتیا ریاست مسئولین وايي، چې د یاد ولایت په مرکز مزارشریف ښار کې د شمال زون په کچه د ۶۲ میلیونه افغانیو په لګښت د درملو او طبي تجهیزاتو د زېرمه کولو مرکز جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.



د دې ولایت د عامې روغتیا رئیس ډاکټر نجیب الله توانا وايي، دغه مرکز د یاد ریاست او د یو شمېر همکارو موسسو په مالي ملاتړ د ۶۲ میلیونه افغانیو په لګښت په ۱۴۰۰ متره مربع ځمکه کې جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو، چې ۶ متره لوړوالي لري او کولای شي د شمال زون په کچه د درملو او طبي وسایلو د زېرمه کولو اړتیاوې پوره کړي او د اداري دفترونو په شتون سربېره د اطفائیې سېستم، فلزي قفسچې او د سړښت او تودوخې تول سېستمونه یې مجهز او فعال دي.

افغان حکومت:

## د روان کال بودجه کې پراختیايي برخې ته ډېر پام شوی

د افغانستان د حکومت مسئولین وايي، چې د وزارتونو او ولایتونو لپاره د روان ۱۴۰۲ کال ټاکل شوې بودجه د ویشلو په حال کې ده. د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد وايي: د روان لمریز کال په پراختیایي بودجه کې د تېر کال په پرتله زیاتوالی راغلی او **۵مخ**



## ۱۰ ولایتونو کې له زرګونو کورنیو سره مرستې وشوې

د هیواد په لسو ولایتونو کې له کابو ۴۱۳۴ بېځایه شویو کورنیو سره بشردوستانه مرستې وشوې. د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت ویلي، چې په کندهار، ننګرهار، خوست، پکتیکا، بغلان، سرپل، بامیانو، جوزجان، پروان او بلخ ولایتونو کې د جګړو او طبیعي پېښو له امله بې ځایه شویو سره، د یو شمېر نړیوالو مرستندویو موسسو په همکارۍ مرستې وېشلې دي. د کډوالو چارو وزارت د خبرپاڼې له مخې، په دغو مرستو کې خوراکي توکي، نغدې پیسې، کرنیزې کڅوړې، ژمنۍ جامې، روغتیايي درمل، د وړیو د سپینولو وسایل، د صابون د تولید وسایل او د شېدو وزې شاملې دي. د یوه بل خبر له مخې، په ننګرهار ولایت کې پرون سلو کورنیو ته د نغدو پیسو مرسته هم وشوه. دغو کورنیو چې پخوا د دغه ولایت د کډوالو ریاست د کارکوونکو لهخوا سروې او پېژندل شوې وې، د ناروې د کډوالو ټولنې لهخوا هرې کورنۍ د ۲۷ زره افغانیو په شاوخوا کې مرسته ترلاسه کړه.

## په لوېدیځ زون کې د اسلامي پولیسو له روزنیز مرکز څخه ۵۵۰ تنه فارغ شول

د اسلامي امارت ۵۵۰ سرتېري په لویدیځه حوزه کې د اسلامي پولیسو له روزنیز مرکز څخه له نظریاتي، تخنیکي او نظامي زده کړو وروسته فارغ شول. په دې مراسمو کې د هیواد په لوېدیځ زون کې د پولیسو د روزنیز مرکز قوماندان مولوي محمد اسماعیل هدایت په خپلو خبرو کې وویل: په دغه مرکز کې شاوخوا ۵۵۰ سرتېرو لازمي د دوو میاشتو لپاره زده کړې تر لاسه کړې او بیا دوي په اړینو برخو کې ګمارل کېږي. مولوي هدایت همداراز زیاته کړه: دوی هڅه کوي چې په لویدیځه حوزه کې لازمو ځواکونو ته پوځي روزنه ورکړي. له بلې خوا د هرات والي شیخ نوراحمد اسلام جار وویل: په اسلام کې د پولیسو مقام ډېر لوړ دی او امنیت یې ستره لاسته راوړنه ده چې یو نظام یې باید ولري.دده همدا راز زیاته کړه: د یوه نظام تر ټولو مهمه دنده **۵مخ**



## فاریاب کې نابینا مېرمنې د اقتصادي ستونزو له امله شکایت کوي

فاریاب کې یوشمېر ((نابینا)) مېرمنې وايي ،چې د وزګارتیا له امله له ګڼو اقتصادي ستونزو سره لاس او ګرېوان دي.

دغه مېرمنې له دولتي او نادولتي بنسټونو چې د نابینایانو برخه کې فعالیت لري، غوښتنه کوي، څو دوی ته د کار او حرفوي زده کړو زمینه برابره کړي.فاریاب کې یوې نابینا مېرمنې منیرې رسنیو ته ویلي ،چې مرستندویو بنسټونو د دې ولایت له معلولانو سره هېڅ مرسته نهده کړې او په وینا یې، دوی ستونزو سره مخ دي.هغې وویل: (( ژوند مو ډېر سخت دی، په سختۍ سره تېرېږي. پلار مې معلول دي او وزګاره کور کې ناست دي. مور مې غالۍ اوبي او اړتیاوې مو پوره کوي.))۱۵کلنه رخسار چې دا، مور او ورور یې د سترګو د لید له نعمته بېبرخې دي، زیاته کړه، چې د اقتصادي ستونزو له کبله د ژوند کړۍ پرې راتنګه ده.نوموړې وویل: **۵مخ**

## ۲۵ زره کورنیو او بهرنیو سیلانیانو د بدخشان طبیعي ځایونه کتلي

د بدخشان د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست چارواکي وايي، چې په تېر یوه کال کې څه باندې ۲۵ زره بهرنیو او کورنیو سیلانیانو د دغه ولایت له طبیعي ځایونو څخه لیدنه کړې ده.د بدخشان د



اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د ګرځندوي رئیس صدیق لعلزاد وايي: مزار شریف ته د تېر کال په ترڅ کې څه باندې ۲۵ زره بهرني او کورني ګرځندویان ورغلي دي. د ده په وینا، د دغو شمېرو ډېره برخه په کورنیو سیلانیانو پورې اړه لري، خو د تېرو څلورو کلونو په پرتله سږ کال د بهرنیو سیلانیانو شتون هم ډېر شوی دی.لعلزاد زیاته کړه، چې له امریکا، ډنمارک، انګلستان، روسیې، چک جمهوریت **۵مخ**

بهرني لنډ خبرونه

### د ناګورنو قره باغ سل زره اوسېدونکو دغه سیمه پرېښې



د نړیوالو رسنیو د راپورونو له مخې، د آذربایجان په ناګورنو قره باغ سیمه کې د ۱۲۰ زره اوسېدونکو له ډلې ۱۰۰ زره تنو یې دغه سیمه پرېښې او ارمنستان ته کډوال شوي دي.د ارمنستان د لومړي وزیر یوې ویاندې نازلي بغداد سریان پرون رسنیو ته په خبرو کې ویلي، چې په تېره یوه اوونۍ کې د دغې سیمې کابو ټولو اوسېدونکو خپلې مېنې پرېښې او ارمنستان ته ورغلي دي.د ناګورنو قره باغ ارمني توکمو اوسېدونکو وروسته له هغې د خپلې سیمې د پرېښودو او ارمنستان ته د کډوالېدو پرېکړه وکړه، چې آذربایجاني ځواکونو د یادې سیمې د بشپړې نیول کېدو اعلان وکړ او د بېلتون غوښتونکو په وړاندې یې ځانګړې پوځي عملیات په لاره واچول خو د عملیاتو له پیل سره سم روسي سوله ساتو ځواکونو مداخله وکړه او له سوله ییزې لارې یې د بېلتون غوښتونکو د خلع سلاح کولو لړۍ پیل کړه.

### په پاکستان کې چاودنو نږدې ۶۰ تنه وژلي



د پاکستان د خیبرپښتونخوا په هنګوي سیمه کې د پولیسو د پوستې په یو جوماتت کې د دوو چاودنو له کبله پنځه تنه وژل شوي او ۱۲نور ټپیان شوي دي.د پاکستان ډان ورځپاڼې د امنیتي چارواکو په حواله راپور ورکړی، چې د تېرې جمعې په ورځ دوو ځانمرګو بریدګرو غوښتل، چې یاد مسجد ته ننه شي ،چې د پولیسو له مقاومت سره مخ شوي دي.سرچینه زیاتوي چې یو بریدګر له مسجد څخه بېرون د پولیسو له لوري وژل شوی او ورسره چاودېدونکو توکو چاودنه کړې، خو دویم بریدګر مسجد ته ننه شوی او هلته یې پر ځان پورې تړلو چاودېدونکو توکو ته چاودنه ورکړې ده.له دې یو ساعت وړاندې بیا په بلوچستان ایالت کې په یو مسجد کې په چاودنه کې ۵۲ تنه وژل شوي او لسګونه نور ټپیان شوي وو.

### د روسیې پوځ تـه ۱۳۰ زره نوي سرتېري جذبېږي



د روسیې ولسمشر ویلادیمیر پوتین غوښتي، چې د سږ کال په منې کې ۱۳۰ زره کسان د نظامي خدمت لپاره جلب کړي. په یو تازه سند کې چې ورمه ورځ د روسیې په حکومتي ویب سایټ کې خپور شوی د عسکرۍ د خدمت لپاره د عمر اندازه هم له ۲۷ څخه دېرشو کلونو ته لوړه شوې. پوتین د همدې روانې میاشتې په سر کې ویلي و، چې له اوکراین سره د اوږدې جګړې لپاره چمتووالي نیسي. د روسیې د قانون له مخې ټول هغه کسان چې عمرونه یې اتلسو کلونو ته رسېږي، باید یو کال په پوځ کې خدمت وکړي. د روسیې د دفاع وزارت ویلي چې ټاکل شوې د جلب او جذب پروسه د راتلونکې اکتوبر میاشتې په لومړۍ نېټې د روسیې په ټول فدراسیون کې پیل شي. دې وزارت همدارنګه ویلي چې دا پروسه به په غیر قانوني توګه له اوکراین څخه په نیول شویو سیمو کې هم عملي شي.